# پاکوالی په اسلام کې

ليکوال:
الحاج عزيز محمد (پرديس)
د ميدان شهر د خروټو د کلي اوسيدونکی

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


**د کتاب ځانګړني**

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | پاکوالی په اسلام کې |
| لیکونکی: | الحاج عزیز محمد "درویش" |
| ډیزاین: | محمد جواد "مبارز" |
| د چاپ کال: | ۱۳۹۶ هـ ش |
| د چاپ شمیر: | (۱۰۰۰) جلده |
| ټلیفون نمبر: | ۰۷۰۷۸۵٤۹٤۲ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کتاب لړلیک

د اودس او غسل فضیلت ........ ۱
د اوداسه فرایض ........ ۲
د اوداسه سنتونه: ........ ۳
د اوداسه مستحبات او مکروهات ........ ۵
د اودس کولو مسنونه طریقه او مسایل یې ........ ۶
په کومو شیانو چې اودس ماتیږي ! ........ ۸
د غسل اقسام ........ ۱۲
په څلورو صورتونو کې غسل واجب دي: ........ ۱۲
په څلورو صورتونو کې غسل سنت دی. ........ ۱۳
په څلوریشتو (۲۴) حالاتو کې غسل مستحب دی: ........ ۱۳
د جنابت مسایل او بیان ........ ۱۴
د غسل طریقه او مسئلې یې ........ ۱۹
د غسل فرضونه ........ ۲۰
د غسل سنتونه ........ ۲۰
د وړې او لوی بې اودسۍ احکام ........ ۲۲
متفره مسئلې ........ ۲۴
د کوهي بیان او مسایل ........ ۲۷
د تیمم مسایل ........ ۳۲
د تیمم طریقه ........ ۳۵
پر موزو د مسحې بیان ........ ۳۷
پر موزو د مسح سنت طریقه ........ ۳۸
په پټۍ مسح کول ........ ۴۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



د معذور بیان.......................................................................۴۱
د حیض او استحاضې بیان او مسئلې ...........................................۴۲
د حیض احکام.......................................................................۴۴
د نفاس مسایل.......................................................................۴۵
د استحاضې مسایل ..................................................................۴۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اودس او غسل فضیلت

اودس په نورو امتونو کې هم وه، دا ځکه چې دا د امت خصوصیت دی چې د قیامت په ورځ به د دې اودس په وجه د اوداسه اندامونه پړق وهي ځلیږي به، چې بیا دا صفت د دې امت لپاره یو خاص صفت ورکړل شوی.

حدیث شریف: د نبی کریم ارشاد مبارک دې، فرمایي چې: مسلمان اودس کوي او هغه خپل مخ مینځي د هغه د سترګو ګناهونه لري شي، په آخري قطرې د اوبو بلکول پاک شي همداسې چې خپل دواړه لاسونه مینځي د لاسونو ګناهونه لري شي، چې خپلې پښې مینځې نو د پښو ګناهونه لري شي، په اخري قطرې د اوبو د هر اندام ټول ګناهونه لري کیږي، کله چې اودس تکمیل کړي نو داسې یې ګناهونه پاک او صاف شي، په حدیث صحیح علماء کرام فرمایي چې د ګناهونو نه مراد صغیره (واړه) ګناهونه دي لکه: نا محرمې ښځې ته کتل، د ګناه او جرم لپاره په پښو تلل، په بد نیت لاس وړل یو شي ته او داسې نور[1].

حدیث شریف: حضرت انس رضي الله تعالی عنه یو جلیل القدر صحابي چې لس کاله یې د نبي کریم په خدمت کې تیر کړي په یوه اوږد حدیث کې فرمایي چې نبي کریم ماته وفرمایل چې اې انس! د جنابت غسل کې ډیره مبالغه کوه (یعنې د جنابت په غسل کې ډیر کوشش کوه) نو بېشکه ته د غسل د ځایه په دا حال کې راوځې لکه چې تا هیڅ صغیره ګناه نه وي کړي، حضرت انس رضي الله تعالی عنه فرمایي چې ما ورته عرض وکړو چې اې د الله پاک رسوله! مبالغې نه مراد څه شی دی؟ راته یې وفرمایل چې په غسل کې د ځان موشل تر دې حده چې د بدن و ښتو کې یو و ښته هم وچ پاتې نشي او دا یوه بهتره طریقه ده، بل دا چې ثوک

[1] مشکوة شریف

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اوداسه کې مړ شي، هغه د شهادت ثواب وړي[۱].

**د اوداسه فرایض**

په اوداسه کې څلور فرضه دي، که لدې څلورو فرضونو یو هم په اوداسه کې ترک کړل شي نو اودس یې نه کیږي. لکه:

۱. د ټول مخ مینځل.
۲. د دواړو لاسونو مینځل تر څنګلو پورې چې څنګلې پکې هم شاملې دي.
۳. تر څلورمې حصې د سر مسحه کول.
۴. د دواړو پښو مینځل تر ښنګړو پورې چې ښنګرې پکې هم شامل دي.

په اوداسه کې فقط څلور فرض دي له همدې وجې اودس ته چهار اندام ویل کیږي، په چهار اندام اوداسه کې شامل اندامونه ښه ومونښل شي، چې یو ویښته هم وچه پاتي نه شي او که یو وېښته یې وچ پاتې شي اودس یې نه کیږي[۲].

مسئله: که چا د اوداسه نیت کړې وي یا یې نه وي کړی؟ نو د ځان یخولو لپاره یې ولمبل او په ټول ځان یې اوبه واچولې یا په حوض کې ولویده، یا چا پکې واچاوه، یا دا چې په باران یې ټول بدن لوند شو، او د ده د اوداسه په اندامو پوره اوبه ولګېدې لامده شو نو اودسې یې وشو، لیکن هغه ثواب چې په اوداسه ورکول کیږي د هغه څخه محروم دې د کوم لپاره چې د مخکې څخه نیت کوي دا د اوداسه لپاره ضروري ده[۳].

[۱] در مختار
[۲] بدریع الصنایع
[۳] رواه شامي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د اوداسه سنتونه**:

په اوداسه کې ۱۴ سنتونه دا دي لکه:

۱. د اودس کولو لپاره نیت کول.
۲. د اودس شروع کې بسم الله ویل.
۳. د دواړو لاسونو مینځل تر مړوندونو پورې.
۴. د هر اندام مینځل درې درې واري.
۵. مضمضه (د خولې مینځل).
۶. مسواک وهل.
۷. استنشاق (پوزه مینځل).
۸. د ږیرې خلالول.
۹. په یو وارې د اوبو اچولو پواسطه د ټول سر مسح.
۱۰. د غوږونو مسح.
۱۱. د غاړې مسح.
۱۲. او د ګوتو خلالول (البته د لاسونو) همدا رنګه د پښو د ګوتو خلالول.
۱۳. ترتیب په اوداسه کې.
۱۴. پرلپسې مینځل د اندامونو.[1]

مسئله: که د اودس لپاره اوبه لږې وي، پوره اودس پرې نه کیدو، یوائې مضمضه او استنشاق او څلور فرایض د اوداسه پرې لمدیده سره د سر د مسحې نو اودس یې کیږي[2].

مسئله: په مسواک وهلو کې لاندې باندې غاښونه د ښئې خوانه شروع کړي حتی کوشش دې وشي چې مسواک تالو ته هم ورسوي، د رصورت

[1] رواه رد مختار و شامی
[2] شرح النوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې روژه دار نوي. مسواک به هر وار لمدوي او مسواک به په لاس دا سې نیسي چې کچه او غټه ګوته به د مسواک لاندې نیسي، منځني درې ګوتې په مسواک برسیره نیسي، مسواک د یوې لویشتې نه زیات نه وي.

د مسواک په نه لرلو کې د لاسونو په ګتو د غاښو موښل هم صحیح ده[1].

مسئله: په مسواک وهلو کې عالمانو دنیوي او اخروي ډېرې فایدې لیکلې دي، او دیرش فایدو کتابونو کې ذکر کړي دي، چې د هغونه ادنی ترینه فایده یې د خولې د بدبویي لري کول دي. او اعلی ترینه فایده یې په ځنکدن کې د کلمې شهادت ویل دي[2].

مسئله: که ږیره یې اوږده وه علاوه د درې وارې د مخ مینځلو د ږیرې خلالول هم سنت دي لیکن د حاجي لپاره د احرام په حالت کې د ږیرې خلالول مکروه ده[3].

مسئله: د ګوتو خلالول هم سنت دي، چې د ګوتو مینځ ته اوبه ښې ورسیږي، در صورت چې د ګوتو منځ ته اوبه رسول فرض دي، چې کوم ځای لږ یا ډیر وچ پاتې نشي[4].

فایده: به عربي کې غچې ګوتې ته خنصره او ورپسې بنسره، منځنې ته وسطی، مسواکي ته سبابه او غټې ګوتې ته ابهامه وایي.

مسئله: په اداسه کې پی در پی والې یعنې کله چې یو اندام ومینځه دومره وقفه پکې رانه شي چې تربل اندام مینځلو پورې هغه ړومبنې اندام وچ شي.

---

[1] رووا ه شرح النویر و شامي
[2] رد مختار و شامی
[3] دار المنتقی
[4] شرح التنویر

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اوداسه مستحبات او مکروهات

په اوداسه کې دا ۱۵ خبرې مستحبې دي لکه:

۱. قبلې ته مخامخ ناسته.
۲. په اوچت ځای کیناستل.
۳. پوزه په چپ لاس پاکول.
۴. د ګوتې او بنګړیو ښورول چې لاندې ترې اوبه ورسیږي.
۵. د ژمي موسم کې د اندامونو مخکې د مینځلو موږل او لمدول يې.
۶. د اندامونو موږل په مینځلو کې حتی چې دا علماوو سنت بللی هم دی.
۷. بې ضرورته دنیوی خبرې نه کول.
۸. اودس بې د ضرورت څخه پخپله په خپل لاس کول.
۹. اودس په اطمینان سره کول.
۱۰. په مینځلو کې شوق او مینه ضروري ده.
۱۱. د غوږونو مسح کول او د غوږونو منځ کې ګوته وهل چې اوبه ورداخلي شي.
۱۲. د څټ مسح کول.
۱۳. د پښو د ګوتو خلال د چپ لاس په غچه ګوته باندې.
۱۴. د هر اندام مینځلو وخت کې کلمه شهادت ویل.
۱۵. کوزه چپ لاسته په اوداسه کې ایښودل.

مسئله: بعضې علماء کرام وایي چې د اوداسه آخر کې باقی اوبو نه لږې اوبه په ولاړې څکل، په قبله دریدل دا مستحبه طریقه ده په هغه صورت کې چې روژه نه وي.

فایده: بې د اوداسه د باقي اوبو او د آب زمزم ابو نه د نورو ابو څکل په ولاړې مکروه دي.

د اوداسه آخر کې کلمه شهادت او د درود شریف ویل هم مستحب

(c) ketabton.com: The Digital Library



طریقه ده.

مسئله: د اوداسه وروسته په دستمال د اندامونو وچول فرق نلري ، لیکن دومره نه چې د دستمال په استعمال د اندامونو لوندوالي اثر هډو کو ته پاتي نشي، د استنجاء په دستمال د اوداسه د اندامونو وچول هم مکروه دي[1].

مسئله: څوک چې د یوه لمانځه لپاره اودس وکړي، همدا اودس که د ده تر هر وخته باقي پاتي وي، لمونځونه پرې کولای شي، او که یې اودس وه بل اودس یې پرې وکړو دا غوره ده، بلکه اودس په اودس باندې مستحبه ده، او که په کړې اودس یې عبادت نوي کړې بل اودس به نه کوي ولې چې دا اسراف ده،اقلا باید دوه رکعته نفل یې په اول اوداسه باید کړې وي[2].

مسئله: په اوداسه کې اسراف ښه ندی، اګر که د سیند په غاړه هم وي، ډیر کمې به هم پکې نکوي. اوبه مخ ته په زوره اچول هم ښه ندي، د ښځې د اوداسه باقي اوبو به هم اودس نه کوي، همدا سې په جوټه اوبو اودس کول مکروه دي[3].

## د اودس کولو مسنونه طریقه او مسایل یې

١. د اودس کولو په وخت کې به په لوړ ځای کینې.
٢. جامې په راټولوي چې څاڅکي پرې ونه لړي.
٣. شروع د اوداسه کې به بسم الله وایې.
۴. درې کرته دواړه لاسونه تر مړوندو مینځل.
۵. خوله درې وارې مینځل، مسواک استعمالول خو په روژه کې به

[1] قاضی خان
[2] شامي
[3] رواه شرح تنویر و رد مختار

(c) ketabton.com: The Digital Library



او به ډېرې نه غړغره کوي.

۶. پوزه درې وارې مینځل په چپ لاس باندې د پوزې نرمې پورې به او به رسوي.

۷. د مخ مینځل درې کرته، د غوږونو د نرمۍ، زنې لاندې ټول مخ ته او به رسول.

۸. درې وارې ښۍ لاس او بیا درې وارې چپ لاس تر څنګلو پورې مینځل چې څنګلو نه پکې مینځل لازم دي.

۹. د یوه لاس ګوتې به د بل لاس ګوتو کې ورکول.

۱۰. د ګوتو خلال کول.

۱۱. د ټول سر مسح کول.

۱۲. د غوږونو او د غوږونو دننه مسح کول. د غوږ د مسحې لپاره د نوو اوبو استعمال ته ضرورت نشته.

۱۳. د ګوتو په شا د څټ مسح کول دي، د مرۍ مسح کول بدعت دی.

۱۴. ښۍ پښه تر بجلکو درې وارې مینځل او همدغه شان چپه پښه مینځل.

۱۵. د کیڼ لاس په غچه ګوته د پښو د ګوتو خلال کول.

فایده: اودس پر درې قسمه دې:

۱. فرض.

۲. واجب.

۳. مستحب.

فرض اودس: د لمانځه لپاره ده که هغه فرض لمونځ وي یا غیر فرض.

واجب اودس: د طواف لپاره.

مستحب اودس: د خوب لپاره د غیبت او دروغو څخه وروسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په کومو شیانو چې اودس ماتیږي!**

اودس په نهه شیانو ماتیږي:

۱. د وړو یا لویو بولو ځای څخه څه وتل، بې د هغه باد څخه چې د مخې له لارې څخه ووځي.

۲. د بدن څخه د وینې یا بل شي لکه ژوي وتل.

۳. په ډکه خوله قې کول.

۴. قوت د امساک چې هغه لرې کوي خوب.

۵. د جنازې لمونځ څخه به بل لمونځ کې د بالغ قهقهه.

۶. بې هوشي.

۷. سکر.

۸. لیونتوب.

۹. مباشرت.

مسئله: که د زخم نه لږه وینه راووتله، خاورې پرې واچولې یا یې پاکې کړې وینه بیا لږه راووتله بیا یې پاکه کړه، څو وارې دا چل ورسره وکړو، وینه یې بهیدو ته پرې نښودله، پدې سره اودس بالکل مات شو، او که ده ورسره دا چل نه وه کړې، هغه ونه بهیده پر ځای ولاړه پاتې شوه اودس یې مات ندې، او بیا وبهیده نو اودس یې مات شو[1].

مسئله: که چا پوزه سونړ کړه د وینې ټوټه ورنه وغورځیده، اودس یې نه ماتیږي. او که چیرې وینه وبهیدله نو بیا یې اودس مات شو، همدا رنګه که چا پوزه کې ګوته وهله زخم شوه وینه ورنه رابهر شوه او ونه بهیدله اودس یې مات نه دې او که وبهیده اودس یې مات شو[2].

مسئله: د ژورې، میاشې، سپږې او ورګې په چیچلو سره هم اودس نه

---

[1] شرح التنویر
[2] در مختار او شامی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماتيږي[۱].

مسئله: که په قې کې داسې اوبه، طعام يا ترخې اوبه وغورځوي اودس يې پرې ماتيږي که هغه په ډکه خوله وي او که په ډکه خوله نه وي، که کم وي اودس نه ماتيږي او که په قی کې صرف بلغم وغورځيده پدې سره اودس نه ماتيږي، که په ډکه خوله وي يا کم وي، لږ وي او که ډير.

مسئله: که کوچنې ماشوم قې اوکړې او د ډکې خولې نه کم وي هغه نجس ندې او که په ډکه خوله يا زيات قې وکړي نو هغه نجس دي[۲].

مسئله: که د چا د لويو بولو د ځای څخه څه قدري باد راووت، او د ده يقين وو چې دا خالص باد ندې، چې اواز يا بوی يې نه وو، نو دې باندې اودس نه ماتيږي، ليکن دلته ډير غور پکار دی داسې نه چې اودس ونه لرې او دې بې اودسته لمونځ وکړي[۳].

مسئله: که څوک په ناستې داسې ويده شي چې کناټې يې دواړه په پونده مظبوط اينبي وو او تکيه هم نه وه ورته اينبي، پدې سره اودس نه ماتيږي[۴].

مسئله: که څوک ستوني ستغ يا په ډډه يا پړمخې ويده شو، اودس يې ماتيږي او که په ناستې ويده شو، کناټې يې پر ځمکه لګولي وو او داسې شی ورته اينبې وو که هغه لري کړي او دې وغورځيږي نو اودس يې مات شو.

مسئله: که لمانځه کې په قيام، رکوع، سجده يا قاعده کې ويده شو، په دې سره اودس نه ماتيږي او که ښځه په کې ويده شوه نو اودس يې ماتيږي[۵].

---

[۱] در مختار او شامی
[۲] شرح التنوير
[۳] شرح التنويز مجمع الانهار
[۴] رواه مينه
[۵] رواه رد مختار

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسئله: که څوک په ناسته کې ویده شو او زنګیده، زنګیدو کې مجردې ځمکې ته رسیدو سره ویښ شو اودس یې مات نه دی او که د ځمکې رسیدو نه وروسته بیدار شو نو اودس یې مات شو[1].

مسئله: که څوک په ناستې بې تکیې ویده شو، او دواړه کناټې یې په پونده مضبوط ایښي وو پدې سره اودس نه ماتیږي[2].

مسئله: که چا لمانځه کې قهقهه وکړه یعنې په زوره یې وخندل، یوه خوا بله خوا ملګرو یې واوریدل د خندیدونکي لمونځ فاسد او اودس یې مات شو، هغه که نر وي یا ښځه وي.

مسئله: که په لمانځه کې نابالغ هلک یا نابالغې نجلۍ قهقهه وکړه یا بالغ وه خو لمانځه کې ویده شو خوب کې قهقهه یې وکړه، یا د جنازې لمانځه کې قهقهه وکړه، یا په تلاوت سجده کې قهقهه وکړه پدې ټولو صورتونو کې اودس نه ماتیږي[3].

مسئله: که چا اودس وکړو بیا یې نوکان واخیستل یا یې سر تراش کړو یا یې ږیره تراش کړه، یا یې د زخم څخه مردار پوستکې وشکاوه او هغه وینې نشو نو پداسې حالاتو کې اودس نه ماتیږي. بیا یې اودس کولو ته ضرورت نشته[4].

مسئله: که چاته په یاد وه چې ما اودس کړې دې لیکن ورته دا یاد نه وو چې زما اودس مات شوې دې یا ندې مات شوي، نو اودسې یې پرځای دې، لیکن بل اودس کول ورته غوره دی. او که اودس ماتیدل ورته یاد وو لیکن بل اودس کول ورته یاد نه وو نو دا اودس یې مات ګڼل کیږي. غرض

[1] شامی و کبیر
[2] رواه مینه
[3] رواه رد مختار و مینه
[4] رواه مینه و رد مختار

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې کوم شي کې یقین ثابت وي هغه په شک سره نه لري کیږي[۱].

مسئله: که وروسته د اودس څخه د دواړو بولو د ځای څخه د څه لوندوالي ولیدل شو، شک یې راغې چې دا اوبه دي او که متیازې، که دا شک پخوا ورته پیښ شوی وي، نو اودس به وکړي، او که عادت یې د شک وي پروا دې نکوي، داسې شکي شخص لپاره دا لازمه ده چې د اوداسه کولو په اخر کې خشتک ته اوبه وشیندي، بیا یې شک ځي[۲].

مسئله: که د سړي د وړو بولو ځای نه قطره د وړو بولو راکوزه شي صرف پدې باندې اودس نه ماتیږي، ترڅو چې هغه قطره خارجه شوي نه وي، او که د ښځې د وړو بولو قطره د فرج نه راووتله نو اودس یې مات شو[۳].

مسئله: که سړي د وړو بولو د قطرې د بندولو لپاره خپل خاص اندام په سوري کې مالوچ کیښود، یو سر د مالوچ پټ شو، بل سر یې ښکاره وو، کوم وخت چې لوندوالې ښکاره خواته راوتلی نه وي اودس یې مات ندې، خو د فرج خارج اعتبار نشته[۴].

مسئله: که د سړي آلت ولاړ (شخ) وو، د ښځې په مخصوص اندام ولګیده، په منځ کې تیکه یا پرده نه وه، صرف په لګیدو سره د دواړو اودس مات شو، اګر که څه وتلي هم نه وي او که ولاړ نه وو د ښځې اودس مات شو، د نارینه ندی مات شوي ترڅو چې څه شی ورنه خارج نشي[۵].

مسئله: د مذي او ودیو په وتلو سره اودس ماتیږي او که منی بې شهوته یعنې د څه مرض په واسطه ووتل، نو په دې صرف اودس ماتیږي.

---

[۱] رواه کبیری
[۲] رواه شامی
[۳] شرح التنویر و رد مختار
[۴] رواه شرح التنویر و رد مختار
[۵] دور مختار و شامی

(c) ketabton.com: The Digital Library



او که چیرې مني په شهوت سره ووتل نو غسل پرې فرض کیږي، باقي د درې واړو فرق په باب د جنابت کې په تفصیل سره راځي[1].

مسئله: که د چا د لویو بولو ځای نه څه حصه راووتله او دس یې ماتیږي، هغه که بیا خپله بیرته داخل شي یا یې دې داخله کړي[2].

## د غسل اقسام

غسل په څلور قسمه دې:

۱. فرض.
۲. واجب.
۳. سنت.
۴. مستحب.

اول- په درې حالاتو کې غسل فرض کیږي: ۱--. لکه د جنابت غسل، ۲. د حیض د بندیدو غسل، ۳. او د نفاس د بندیدو غسل دی.

## په څلورو صورتونو کې غسل واجب دي:

۱- کافر چې ایمان راوړي او هغه په جنابت کې وي، یا دا چې ښځه په حالت د حیض او نفاس کې وي، غسل پرې واجب کیږي.

۲- مسلمان مړي ته پر ژوندیو باندې غسل ورکول واجب دي البته کفایتاً، چې یو غسل ورکړي، د ټولو غاړې پرې خلاصیږي.

۳- که په ټول بدن نجاست ولګیده غسل پرې واجب دی.

۴- همدا سې که د بدن په لږ ځای نجاست ولګیده او ځای یې معلوم نه وو، نو د ټول بدن غسل پرې واجب دی.

[1] رواه هندیه و مراتی
[2] رواه دور مختار و شامی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په څلورو صورتونو کې غسل سنت دی.**

۱- د جمعې لمونځ لپاره.
۲- د دواړو اخترونو لمونځونو لپاره.
۳- د حج او عمرې لپاره غسل سنت دی.
۴- د وقوف عرفې لپاره غسل سنت دی.

**په څلورویشتو (۲۴) حالاتو کې غسل مستحب دی:**

۱. هلک یا نجلۍ چې پنځلسو کالو ته ورسیږي، او د ځوانۍ علامات پکې پیدا شي.
۲. کافر چې مسلمان شي چې د لوی بې اودسۍ نه پاک وي.
۳. د لیونتوب او بې هوشي نه چې ښه شي.
۴. د ښکر لګولو نه وروسته.
۵. د شب قدر د میاشتې په پنځلسمه شپه.
۶. د عرفې په شپه.
۷. د لیله القدر په شپه چې ویېویني.
۸. د مزدلفې د قیام لپاره.
۹. رمي د جمرو لپاره.
۱۰. مکې شریفې ته د داخلیدو لپاره، یعنې طواف زیارت لپاره.
۱۱. مدینې منورې ته داخلیدو لپاره.
۱۲. د استسقاء لمونځ لپاره.
۱۳. د خسوف او کسوف لمونځ لپاره.
۱۴. د ډار په وخت کې.
۱۵. د سخت باد په وخت کې او یا که طوفان وي.
۱۶. ورځ چې سخته تیاره شي.
۱۷. د نوو جامو اغوستلو لپاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۸. عام مجلس ته د ورتلو لپاره.
۱۹. څوک چې مړی ولمبوي.
۲۰. څوک چې توبه اوباسي.
۲۱. چې د سفر نه بیرته راشي.
۲۲. څوک چې قتل کیږي.
۲۳. چې د مستحاضې ښځې وینه ودریږي.
۲۴. د سړي چې احتلام وشي یعنې شیطان بازي ورکړي، بیا وغواړي چې ښځې سره یو ځای شي[1].

پدې پورته څلورویشتو حالاتو کې په سړي باندې غسل مستحب ګرځي.

نوټ: بعضې بیا وایي چې طواف لپاره غسل کول واجب دی.

## د جنابت مسایل او بیان

د جنابت لپاره دوه سببه دي:

۱. سبب دخول د حشفې دی (یعنې د مشتهي انسان حشفه چې د ژوندی ښځې په قبل یا دبر) کې داخل شي، یا د بل انسان یا بل شي په دبر کې چې هغه ژوندی وي او شهوت ورته کیږي، اګر که مني یې وتلي وي یا نه وي وتلي، نو غسل پرې فرض شو، که دواړه عاقل او بالغ وو په دواړو دی او که یو عاقل او بالغ وو نو په یوه ده[2].

مسئله: د حشفې په دخول سره غسل لازمیږي، دا حکم صرف د مشتهي انسان په جماع کې دی. او په بل ځای کې د غسل د لازمیدو لپاره انزال شرط دی.

(نعوذ بالله) که سړي د څاروي سره بد کار وکړ یا یې د مړې ښځې سره،

[1] رواه دور مختار و رد مختار

[2] رواه دور مختار و شامی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته محض په دخول سره غسل پرې نه راځي، تر هغه وخته چې انزال يې ونه شي، پاتې د ګناه خبره شوه هغه جدا ده، همدا رنګه حکم د جلق او تفخيذ وغيره هم دی، فرض يې کړه يوه ښځه وه هغې ګوته يا لرګې يا بل داسې شي استعمال کړو او يا يې د مړ سړي شی يا يې د وړوکي هلک چې هغه سره شوق نه وو نو په داسې حالتو کې اصل مذهب وايي چې غسل پرې نشته ترڅو چې انزال ونشي، باقي د ګناه خبره او حکم يې جدا دی[1].

مسئله: په نوم (ناف) کې د حشفې داخليدل پر سړي غسل نه واجبوي همداسې د پيچکاري په دخول سره هم غسل نه لازميږي[2].

مسئله: که هلک نابالغ وي او ښځه بالغه وي او جماع يې وکړه په ښځه غسل لازم شو او په هلک باندې غسل ندې لازم ليکن د عادت په خاطر غسل به کوي.

همدا رنګه که هلک بالغ وي او ښځه نابالغه وي خو د جماع قابله وي، جماع يې وکړه په هلک غسل لازم دې او په نجلۍ لازم ندې، بلکه مستحب دی[3].

۲. د جنابت دوهم سبب انزال دی يعنې منې د خپل اصليې ځای نه په شهوت سره د جلا کيدل او بيرون وتل دي هغه که په جماع سره وي او که صرف په خيال سره وي يا په تصور کولو سره وي او که په هره طريقه وي، په ويخه وي يا په خوب کې وي[4].

مسئله: که منې د خپل اصلي ځايه په شهوت سره جدا شوه، ليکن د وړو بولو ځای نه بې شهوته ووتل مثلا د سړي کار تمام شو بيا يې خپل شې مظبوط ونيوه کله چې شهوت ختم شو پرې يې ښود او منی ورنه بې

[1] رواه دور مختار و شامی
[2] رواه قاضی خان
[3] مورقی الفلاح
[4] رواه مينه و خانيه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهوته ووتله پدا سې حالت غسل پرې فرض شو[۱].

مسئله: که د وړو بولو نه پس ترې مني ووتل په شهوت سره او ذکر يې لا ولاړ وو دلته هم غسل پرې فرض شو[۲].

مسئله: که انزال يې وشو بيا يې متيازې وکړې يا يې څلويښت قدمه واخيسته او يا دا چې ويده شو بيا يې غسل وکړو او پس د غسل نه ورنه مني بې شهوته ووتله نو پدې سره غسل پرې نشته، او که غسل نه مخکې او انزال نه پس چې نه يې متيازي کړي وې نه يې څلويښت قدمه اخيستي وو او نه ويده شوی وو ده غسل وکړو د غسل نه پس ورنه مني بې شهوته ووتله پدې سره يې اولنې غسل باطل شو بيا به د سره غسل کوي او که يې مخکني غسل سره لمونځ کړې وي لمونځ يې صحيح دې ګرځولو ته يې حاجت نشته. او که دا واقعه ښځې ته پيښه شوه او ښځې ته ثبوت شوه چې دا مني د خاوند د منيو بقايا ده په ښځه هم غسل نه لازميږي، بل غسل ته يې ضرورت نشته[۳].

مسئله: که چا درونه پيتی جګ کړو يا د پاسه راولويده، يا چا وواهه او ده نه مني بې شهوته ووتل، يا د کوم مرض پواسطه ورنه خارج شول، غسل پرې نشته بلکې اودس يې مات شو.

فايده: مني، مذي او ودي دا درې شيان دي، چې د شوق په وخت کې سړي نه خارجيږي ، په مذيو کې شهوت نور هم زياتيږي، او دا ښځو کې د سړيو په نسبت زيات وي. او کومې اوبه چې د ختميدو په وخت کې وځي او د هغه څخه وروسته شوق ختم شي، او شوق مړ شي هغه ته مني وايي.

په منيو او مذيو کې فرق دا دې چې مني ټينګ وي او مذي نري.

ودي هغه اوبه دي چې د پيو په شان دي، بوی نلري، د وړو بولو څخه

---

[۱] هدايه و عالمګير

[۲] رواه بحر الرائق

[۳] رواه شامي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته او کله کله د وړو بولو څخه مخکې ځي، خلاصه چې په مذیو او ودیو باندې غسل نه لازمیږي بلکه ماتونکي د اودا سه دي[۱].

۲. د جنابت دوهم سبب کې احتلام شامل دی

مسئله: که څوک د خوبه پاڅیده احتلام (د شیطان خطاء ویستل) ورته یاد وو او لذت یې هم وو لیکن د لوندوالي څه اثر یې په بدن او جامو نه وو نو غسل پرې نشته[۲].

مسئله: که دوه سړي یا دوه ښځې یا ښځه او خاوند دواړه یو ځای پراته وو کله چې د خوب نه پاڅیده د یوه هم احتلام په یاد نه وو چې دا د کوم یوه دي او بل ته هم احتلام یاد نه وو دلته په دواړو غسل واجب دی[۳].

فایده: د سړي مني ټینګ وی او د ښځې مني نري وي، د سړي مني سپین وي او د ښځې زیړ وی لیکن علماؤ کرامو په دې فرق هم څه دلایل داسي وایي چې طبیعتونه مختلف دي او په غذاګانو سره هم اثر پریوزي، نو دا فرق یې مدار د اعتبار ندی ګڼلی[۴].

فایده: که څوک د خوبه پاڅیده په خپل ورون یا جامه او یا فرش یې څه لوندوال ولیده نو په ۱۴ دې حالاتو کې دا رنګه حکم بیان شوی دی لکه:

۱. که یقین یې وو چې دا مني دي او احتلام ورته یاد وو (د درې واړو امامانو په نزد غسل پرې واجب دی).

۲. که یقین یې وه چې دا منی دي او احتلام ورته یاد نه وو (د درې واړو امامانو په نزد غسل پرې واجب دی).

۳. که یقین یې وو چې دا مذي دي او احتلام ورته یاد وو(د درې واړو امامانو په نزد غسل پرې واجب دی).

---

[۱] رواه مراقی الفلاح
[۲] رواه هندیه
[۳] رواه شامی
[۴] شامی

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴. که یقین یې وو چې دا مذي دي او احتلام ورته یاد نه وو ( په شامي کې وايي چې غسل پرې واجب ندی، لیکن کبیري کې یې راوړي دي چې غسل پرې واجب دی په نزد د طرفینو ).
۵. که یقین یې وو چې دا ودی دي او احتلام ورته یاد وو ( غسل پرې واجب ندی اتفاقا ).
۶. که یقین یې وو چې دا ودي دي او احتلام ورته یاد نه وو ( غسل پرې واجب نه دی اتفاقا ).
۷. شک یې وو چې دا مني دي او که مذي او احتلام ورته یاد وو (غسل پرې واجب دی اتفاقا ).
۸. شک یې وو چې دا مني دي او که مذي او احتلام ورته یاد نه وو (غسل پرې واجب دی[1] ).
۹. شک یې وو چې دا مني دي او که ودي او احتلام یې یاد وو (غسل پرې واجب دی اتفاقا ).
۱۰. شک یې وو چې دا مني دي او که ودي او احتلام ورته یاد نه وو (غسل پرې واجب دی اتفاقا ).
۱۱. شک یې وو چې دا مذي دي او که ودي او احتلام ورته یاد وو (غسل پرې واجب دی اتفاقا ).
۱۲. شک یې وو چې دا مذي دي او که ودي او احتلام ورته یاد نه وو (غسل پرې واجب ندی اتفاقا ).
۱۳. شک یې وو چې دا مني دي او که مذي او احتلام ورته یاد وو (غسل پرې واجب دی اتفاقا ).
۱۴. شک یې وو چې دا مني دي او که مذي او احتلام ورته یاد نه وو (غسل پرې واجب دی په نزد د طرفینو ).

---

[1] رواه شامي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسئله: که سړی د خوبه پاڅیدو په خپل ذکر یې لوند والی ولیدو، شک یې راغی چې دا مني دي او که مذي؟ او احتلام ورته یاد نه وو نو که یې د خوب مخکې ذکر منتشر نه وو دلته غسل پرې لازم شو، او که یې ذکر منتشر وو نو غسل پرې لازم نه دی، او که یې یقین راغې چې دا مني دي یا احتلام ورته یاد شو، او یا دا چې په ملاستې ویده شو، نو غسل پرې لازم دی[1].

## د غسل طریقه او مسئلې یې

غسل کوونکی ته پکار دی چې اول کې نیت د غسل وکړي، د تبرک لپاره بسم الله پر ژړه کې ووایي دواړه لاسونه تر مړوندو پورې ومینځي، بیا وړه او لویه استنجاء وکړي، بیا کومه پلیتي چې په بدن وي هغه لرې کړي (ویې مینځي) باقاعده اودس به وکړي که په ډبره یا لرګي ولاړ وو خپلې پښې به اوداسه سره پرېمینځي او که تیګه یا لرګې نه وي او پښې په ختو یا بل شي چټل وي نو وروسته د غسل څخه به خپلې پښې ومینځي، کله چې یې وړوکې اودس خلاص کړو نو بیا به خپله خوله او پوزه درې وارې ومینځي، بیا به په خپل سر اوبه واچوي بیا به په ښی اوږه اوبه واچوی هم دغه شان په چپه اوږه خپل ځان به پوره او ښه ومږي چې بدن کې هیڅ ځای ورنه وچ او بې موښلو پاتي نشي، دا عمل به درې وارې تکرار کړي، آخر کې به خپل ځان په یوه پاک دستمال وچ کړي که په اوداسه کې یې پښې مینځلي وي بیا ضرورت د مینځلو یې نشته، او که اوداسه کې یې پښې مخکې نه وي مینځلي نو درې وارې به خپلې پښې ومینځي په داسې حالت کې غسل وشو چې دا یوه د سنت طریقه ده.

یادونه: په غسل کې فرض، واجب، سنت او مستحبات شته، کوشش وکړای شي چې ټول آدا شي، او که په غسل کې د فرایضو څخه یو هم

---

[1] رواه شامی و منیه مصلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرېښودل شو نو غسل يې نه کيږي[۱].

## د غسل فرضونه

په غسل کښې درې فرض دي:

۱- د خولې مينځل درې کرته پداسې طريقه چې ټولې خولې ته اوبه ورسيږي، بې له روژې اوبه غرغره هم شي.

۲- د پوزې مينځل چې د پوزې نرميو ته اوبه ورسيږي.

۳- په ټول بدن درې کرته اوبه اچول او ځان ښه موښل حتی يو ويښته هم وچ پاتې نشي.

## د غسل سنتونه

په غسل کښې څلور سنت دي:

۱- استنجاء کول.

۲- نجاست حقيقي که په بدن لګيدلي وي د هغه لرې کول.

۳- اودس کول.

۴- په ټول بدن داسې اوبه اچول چې اول به يې په سر اچوي، بيا په ښي اوږه او بيا په چپه اوږه او بيا په نور بدن، په نيت او بسم الله به غسل شروع کوي، مسواک وهل، خلال او موږل وغيره چې اوداسه کښې سنت دي په غسل کښې هم سنت دي[۲]

مسئله: که غسل کوونکی په جاري اوبو کښې يا باران کښې په قدر د اودس او غسل حصار شو ټول بدن ته يې اوبه ورسيدې نو سنت يې آدا شو، همداسې په لوی حوض کښې حصار شو او خپل ځانته يې حرکت ورکاوه يا يې قدم اخيسته، پدې سره هم سنت آدا کيږي[۳].

---

[۱] رواه دور مختار و شامی
[۲] رواه دور مختار و شامي
[۳] رواه دور مختار و شامي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسئله: په غسل کې د ډیرو اوبو استعمالول (اسراف) نشته، او نه ډیري کمي. غسل کې قبلې ته مخامخ دریدل هم نشته، خبري به هم نه کوي، دعا به هم نه لولي، په ډیر خفیه ځای کې به غسل کوي چې څوک نه وي، آخر کې به ځان په پاکه ټوټه وچوي[1].

مسئله: د جنابت په غسل کې که د چا یو ویښته هم وچ پاتي شي یا یې مضمضه (د خولې مینځل) پاتي شي یا یې د پوزې مینځل هیر شول نو غسل یې ونشو، که وروسته د غسل ورته یاد شو بیا د ده غسل ته ضرورت نشته، بلکه په هغه وچ ځای به اوبه واچوي، خوله او پوزه به کنګال کړي، که چیرې یې پدې غسل چې مضمضه او استنشاق یې نه وي کړی لمونځ یې آدا کړی وي لمونځ یې ونشو[2].

مسئله: که د چا نوکانو کې اوړه وچ شوي وو غسل یې نه کیږي ترڅو چې اوړه لري نکړي[3].

مسئله: ښځې ته ضروري دي چې غسل کې بنګړي، ګوتې او نور شیان ښه وښوروي همدا رنګه پوزه کې چارګل او غوږو کې لښتۍ ښې وښوروي او که لښتۍ او چارګل یې هم نه وي نو سوري ته یې اوبه رسول ضروري دي[4].

مسئله: که د چا غاښو کې څه شی بند وي، د هغه لرې کول ضروري دي، باید اوبه هغه ځای ته ورسیږي او که یې لري نکړي نو غسل یې نه کیږي دا ځکه چې غسل کې د یوه ویښته ځای وچ پاتي شي نو د هغه غسل نه کیږي، که ډیر کم شی په غاښو کې نښتی وي نو هغه د څو ویښتانو په اندازه راځي[5].

---

[1] رواه مینه
[2] رواه کبریی او شرح التنویر
[3] کبیري شرح التنویر
[4] روه شرح التنویر
[5] رواه شامی

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسئله: که چا په ویښتو یا بدن باندې تیل لګولي وي او په غسل کې یې پر ځان اوبه واچولې او ټول بدن یې لوند شو، خو بدن یې د غوړوالي پواسطه اوبه نښې نه قبلوي خیر دې غسل یې وشو کومې اوبه یې چې پر ځان اچولي او ټول بدن باندې اوبه تیري شوي صحي دي. په خپله خوله او پوزه باندې دې اوبه تیري کړي، غسل یې وشو[1].

مسئله: که د جمعې یا اختر ورځ وه او چا د جنابت لپاره غسل کړی وي نو دا یو غسل درې واړو لپاره کفایت کوي، نیت به د درې واړو د ثواب لپاره وکړي[2].

## د وړې او لوی بې اودسی احکام

په چا چې غسل فرض شوی او د جنابت حال کې وي یا ښځه د حیض او نفاس حالت کې وي، مکې شریفې ته او جوماتونه داخلیدای نشي، همدا سې طواف کول هم ورته حرام دي، لیکن ضرورت وي، بیا فرق نلري لکه: دا چې د ده کور دروازه جومات دروازې ته وي بله لاره ونه لري تلای شي، یا دا چې بې له جومات نه بل ځای د اوسیدو نوي، یا دا چې مسافر وو غسل پرې واوښت، او په جومات کې حوض، چینه یا نور د اوبو وسیله وه، دا سې شخص ته جواز لري چې تیمم ووهي ورداخل شي.

مسئله: څوک چې جنوب وي، یا د حیض او نفاس حالت کې وي نو قرآنکریم ته لاس وروړای نشي حتی چې د لستوڼي پواسطه هم لاس وروړای نشي، آن که جدا یې تیکه په لاس کې ونیوله او قرآنکریم پرې راواخلي، یا دا چې قرآنکریم بې له خپلې وقایې نه جدا پوښ شوی او قرآنکریم یې پکې تاو کړی وي دا سې حالت کې بیا لاس وروړل جواز لري.

همدا سې که په کومه ګوته یا روپۍ یا تعویز کوم آیات لیکل شوی وي

[1] رواه شرح التنویر
[2] رواه شرح التنویر

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس وروړل ورته جواز نه لري او که په څه شي پوښل شوی وي نو بیا لاس وروړای شي[۱].

مسئله: په لویه بې اودسی کې د قرآنکریم لوستل جواز نه لري او که چیرې ښځه د حیض او نفاس په حالت کې وي پداسې وخت کې ماشوم ته سبق ویلی شي، لیکن یو آیت به پوره نه ورته وایي بلکه په زور او زیر او یوه یوه کلمه به درس ورته وایي، ساه به باسي، په یوه ساه به یې هم ورته نه وایي پداسې حالت لاس وروړل قرآنکریم ته ندي پکار بلکه په ډکې دې ورته د قرآنکریم پاڼې اړوي همدا رنګه حکم په جنابت کې هم دی[۲].

مسئله: په جنابت کې درود شریف ویل، د الله پاک نوم اخیستل، د دعا آیتونه د د دعا په نیت او استغفار کول دا ټول جواز لري، لیکن په نیت د تلاوت د قرآنکریم لوستل ورته حواز نلري، او که یې ورته کتل لوستل یې نه بیا فرق نه لري، همداسې به د کلام ربي په نوشته کولو کې هم احتیاط کوي، ندي لیکي[۳].

مسئله: د جنابت حالت کې د نوکانو اخیستل، د نامه لاندې ویښتان اخیستل یا د نورو ویښتانو لرې کول مکروه دي[۴].

مسئله: که سړی د ښځې سره یوه شپه کې څو کرته جماع وکړه، آخر کې یو غسل ورته کفایت کوي او که یې جدا جدا وکړي ورته بهتره ده، بعضې علماء کرام وایي چې احتلام نه وروسته او لمبلو وروسته چې چا جماع وکړه د هغوی هغه اولاد به یا لیونی وي او یا بخیل وي[۵].

---

[۱] رواه شرح بدایه و شرح التنویر
[۲] رواه عالمګیر
[۳] شرح التنویر و رد مختار
[۴] رواه فتاوه هندیه
[۵] رواه شامی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## متفره مسئلې

مسئله: که شرعی کتاب د ویلو نه ووت او بیکاره شو، حکم یې دا دی چې د الله پاک د رسول کریم صلی الله علیه واله وسلم او د فرښتو نومونه به ترې لرې کړي، باقي به وسوزوي یا به یې دفن کړي یا به یې اوبو ته واچوي، او که قرآنکریم د تلاوت نه ووت هسې به یې نه غورځوي بلکه یوه ټوټه کې به یې ونغاړي دا سې ځای کې به یې ښخ کړي چې هلته د رفت و آمد لاره نه وي، یا د به یې د قبر خوا کې ښخ کړي، یا به یوه دا سې جګ ځای کې ځای ورته جوړ کړي او هلته به قرآنکریم کیږدي.

مسئله: د جومات خس او خاشاک به هم دا سې ځای کې نه اچوي چې هلته خوسا او بوی ناکه ځای وي، پاک ځای کې به یې اچوي.

همدا سې په کوم کاغذ چې آیات لیکلي وي یا بل شرعي شی لیکلي وي، په هغه کې د شي تاوول مکروه دي.

## په کومو اوبو اودس او غسل جواز لري او په کومو اوبو جواز نلري

مسئله: د باران، خوړ، لښتي، چینې، کوهي، حوض، دریاب او سمندر په اوبو غسل کول او اودس کول جواز لري، که هغه اوبه خوړې وي او که ترخې وي، د واورې وي او که د ګلي وي چې هغه ویلي شوی وي، لیکن د مالګې په اوبو جواز نلري[۱].

مسئله: د ونې یا د پاڼو یا د میوې اوبه چې په خوړ یا ویالې کې ویستل شوي وي پدا سې اوبو اودس او غسل کول جواز نلري همدا سې د هندوانې او ګنې په اوبو هم جواز نلري[۲].

مسئله: د کومو اوبو چې صفتونه یې بدل شوي لکه: خوند، بوی او رنګ په هغو اوبو غسل او اودس کول جواز نلري، لیکن که دا سې شی یې

---

[۱] درمختار
[۲] شامی

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوبو کې ایشولی وي، چې په هغه سره صفایي راځي لکه: د بیري پاڼې نو بیا فرق نلري پرې کیږي[1].

مسئله: په کومو اوبو چې مړی لمبول شوی وي، هغه اوبه نجسې دي، او په کومو اوبو چې غسل یا اودس شوی وي، نو د دې اوبو استعمالول او څښل هم مکروه دي حتی حرامی دي نه به اودس پرې کوي او نه به یې نور شي باندې استعمالوي[2].

مسئله: د اودس کولو وخت کې د مخ او لاس اوبه چې بهیږي، لږ یا څه ډیر څاڅکې چې په بدن یا جامو لګیږي فرق نلري، لیکن بهتره دا ده چې اول کې خپلې جامې راټولې کړي[3].

مسئله: که د سړي اودس وو او ده د آب زم زم اوبو باندې د تبرک لپاره اودس یا غسل کاوه خیر دی، لیکن په بې اودسی کې نه به غسل پرې کوي او نه به اودس پرې کوي همداسې د پیلیتی پریمنځل او استنجاء کول هم پرې ښه ندي او که ضرورت وو فرق نلري[4].

مسئله: که په منګي یا سطل کې ماشوم لاس وواهه او په لاس یې پلیتي وه یا دا چې باران وو پاس په بام پلیتي وه ناوه کې اوبه راروانې وې، دواړو حالاتو کې اوبه ناپاکي دي نه پرې غسل کیږي او نه پرې اودس، او که دواړو حالاتو کې پلیتي نه وه نو بیا ورته جواز لري، لیکن بهتره دا ده چې نورې اوبه پیدا کړي[5].

مسئله: کوم حوض چې لس شرعي ګزه اوږد او لس شرعي ګزه پلن وي، او ژور وي، چې سړی اودس کوي، لاندې ترې ځمکه نه ښکاره کیده

[1] رواه عالمګیر و هدایه
[2] رواه شامی، بحررایق، عالمګیر
[3] شرح التنویر
[4] طحطاوی
[5] منیه و منیه کبیری

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو دې ته ده در ده ویلي شي. نو که پداسې حوض کې څه پلیتي لویدلي وي او هغه نه ښکاره کیده لکه متیازې یا شراب وغیره هر اودس کوونکی کولای شي چې د حوض په هره څنډه کیني اودس کولای شي، او که داسې پلیتي لویدلي وي چې هغه معلومیده لکه: مړ پسه وغیره، نو بیا اودس کوونکی دې د حوض بلې څنډې ته خپل اودس وکړي او که چیرې پر دې ده در ده حوض کې دومره پلیتی لویدلي وه چې د حوض ټولو اوبو ته یې خوند او رنګ تغیر کړی وي نو دا اوبه ټولې نجسې دي[1].

مسئله: که د حوض اوبه ده در ده مقدار نه کمې وي مثلا هفت در هفت او په هغه کې نجاست ولویده هغه اوبه ټولې نجسې دي او که چیرې اوبه پرې راروانې وي او هغه هفت در هفت ټولې ډک شو او څه ورنه ونه وتلې بیا هم دا اوبه نجسې دي، اګر که هفت در هفت دی بعضی د پاکی حکم کوي[2].

مسئله: په کومو حشراتو کې چې وینه نه وي، لکه میاشی، سپګه، مچ، مچی، لړم او داسې چې اوبو کې بیرون مړ شوی وی واچول شي یا اوبو کې مړ شي نو اوبه نه ناپاکې کیږي، اوبه که لږې وي یا ډیرې وي، اودس او غسل پرې کولای شي[3].

مسئله: کوم حیوان چې اوبو کې پیدا کیږي او پکښې اوسیږي لکه: ماهی، چنګښه، کني کبر وغیره هغه په اوبو کې مړ شو، یا دا چې اوبو ته مړ وغورځول شو، پدې اوبه نه ناپاکې کیږي، لیکن که د وچې چنګښه وي، چې هغه وینه لري که اوبو ته مړه ولویده یا پکې مړه شوه اوبه نجسې کیږي دلته د اوبو او وچې د چنګښې فرق دا دی چې د اوبو د چنګښې ګوتی پرده لري نښتي وي او د وچې د چنګښې ګوتي جدا جدا وي پردې نلري[4].

---

[1] رواه منیه او شرح تنویر

[2] منیه و کبیری

[3] رواه دورمختار و شامی

[4] رواه شرح التنویر

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسئله: که په حوض یا کوهي کې د ونو پاڼې ولویدلې او په اوبو کې یې فرق راوست لیکن اوبه په همغه شکل صابتي وې پداسې اوبو غسل او اودس جواز لري[۱].

مسئله: په کومو اوبو کې چې پلیتي لویدلي وي، او د اوبو بوی، خوند او رنګ ته یې تغیر ورکړي پداسې اوبو بلکل اودس او غسل کول او بل ځای یې استعمال جواز نلري، لکه متیازی نو د داسې اوبو ورکول څارویو ته هم جواز نلري[۲].

## د کوهي بیان او مسایل

د کوهي( څاء ) ژوروالي کې اعتبار نشته، او که ده در ده د مقدار نه کم وو او څه مقدار نجاست ورته ولویده نو دا ناپاک شه. دا به هغه وخت پاکیږي چې ټولې اوبه ورنه وویستل شي او د حیواناتو حکم وروسته به په تفصیل سره بیان شي.

مسئله: که د زرکې، کوترې، چنچڼې او داسې نورو مرغیو غول (ګندګی) کوهی ته ولویده نو پدې باندې د کوهیي اوبه نه خرابیږي او که د کورني چرګې یا هیلۍ واغیره ګندګی کوهی ته ولویده، کوهی پرې ناپاکه کیږي ټولې اوبه یې راویستل کیږي، همداسې که د سپي، پشو، غوا او داسې نور شي ګندګی کوهي ته ولویده هم دا حکم لري چې ټولې اوبه به یې راوباسي[۳].

مسئله: که سږی، وزه یا سپې کوهی ته ولویده او هلته مړ شو یا مړ ورواچول شوی وو داسې حالت کې د کوهي ټولې اوبه نجسې دي، ټولې اوبه به ترې راوباسي.

---

[۱] رواه تنویر الرابط

[۲] رواه هدایه

[۳] رواه منیه و کبیری

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسئله: که کوهی ډیر ژور وو او به یې په راویستلو باندې نه خلاصیدې نو حکم دا دی چې د هغې کوهي ځنګ کې به بل هومره کوهی کیني، او به به د هغه کوهي نه راوباسي کله چې دا کیندل شوی کوهی ډک شو بیا نو هغه کوهی پاک شو، لیکن د هغه کوهي د لوندوالی اندازه به د دې کوهي په اندازه وي، یا دا چې یو لرګی به په اول کوهی کې کوز کړي د اوبو اندازه دې په نښه کړي کله چې دی بل کوهی ته د هغه لرګي په اندازه اوبه راوویستلې نور به یې بس کوي، او بعضې علماء کرام بیا وایي چې همدې کوهي نه به ۳۰۰ ډولچې اوبه راوباسي هم پاکیږي[1].

مسئله: کوم حیوان کوهي ته ولویده یا مړ وغورځول شو یا هلته مړ شو پکې بیا هغه پداسې حالت کې راوویستل شو چې هغه نه پړسیدلی وو او نه چاودلی وو او نه ریژیدلی وو نو دغه حیوان ته به وکتل شي که هغه موږک وو یا چینچړی او یا کربوړی یا داسې بل حیوان نو دلته به دیرش ډولچې اوبه راوباسی ګني شل خو بالکل ضروري دي.

او که چرګه، کوتره، پیشو یا داسې نور څخه نو دلته به شپیته ډولچې اوبه راوباسی که نه نو څلویښت خو ضروري دي او که وزه، پسه یا سپې وو نو داسې شیانو لویدو کې به ټولې اوبه راوباسي[2].

مسئله: کوم حیوان چې نجس العین نه وي او هغه اوبو ته کوهې کې ولویدو او بیا هغه ژوندی راوویستل شو، او دا هم معلومه نه وه چې پښو یې نجاست وو یا نه وو نو پدې باندې کوهی نه پلیتیږي، او که خولی ته یې اوبه تللي وې نو چوټه کیږي بیا به یې جوټې وکتل شي چې جوټه یې پاکه ده او که ناپاکه ده، دلته که چیرې پسه، وزه، غوا، میخه یا اوښ یا کوتره یا بل داسې حیوان کوهی ته ولویده، بیا هغه ژوندی راوویستل شو، د داسې حیوان اګر که خولی ته یې اوبه تللي هم وي، کوهی پاک

[1] رواه منیه، کبیري و هدایه
[2] رواه درمختار

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، لیکن د احتیاط لپاره به شل ډولچې اوبه ورنه راوباسي، او که سپی ورولویده او خولی ته یې اوبه تللې وې بیا ژوندی راوویستل شو داسې وخت کې کوهی ټول پلیت شو اوبه به یې ټولې راوباسی، همداسې د خره د لویدو حکم هم دی. او که پیشو یا آزاده چرګه کوهی ته ولویده او ژوندی راوویستل شو دلته څلوېښت ډولچې به راوباسي او که خنزیر ورولویده او په کوم ځای یې چې اوبه لګیدلی نو ټولې اوبه نجسې دي، نو د ټولو اوبو راویستل ضروری دي[1].

مسئله: که کوهي ته ډولچه ولویده، کله چې څوک ورکوزیږي، هغه به استنجاء کوي بیا به ورکوزیږي که چیرې بیا دا سړی په غوټه باندې ډولچه راوباسي او د دې سړي په بدن او جامو څه پلیتي نه وي نو دا اوبه پاکي دي او که څه پلیتي په بدن یا جامو یا دا چې استنجا یې نه وه کړې څه نجاست وو نو دا اوبه بیا ناپاکي دي[2].

مسئله: که کوهي ته موږک یا داسې بل حیوان لویدلی وو او هغه مړ راوویستل شو ورته معلومه نه وه چې دا څه وخت لویدلی دی چې نه پړسیدلی دی او نه ریژیدلی دې نو دا د یوې شپې او یوې ورځې حکم لري، دلته به د کوهی نه څلوېښت ډولچې اوبه راوباسي. که مخکې چا پدې اوبو اودس کړی وي، او لمونځ یې پرې ادا کړی وي باید خپل لمونځ راوګرځوي. او که یې جامې یا بل شی پرې مینځلی وي هغه به بیا پریمنځي او که چا اوړه پرې لانده کړي وي او ډوډۍ یې پخه کړې وي هغه دې اوبو ته واچوي.

او که چیرې حیوان کوهی کې پړسیدلی یا چاودلی وو دلته دا د درې شپو او درې ورځو حکم ورکوي داسې حالت کې به د درې شپو او درې ورځو لمونځونه راګرځوي[3].

[1]رواه درمختار و شامی
[2]رواه شرح التنویر
[3]رواه شرح تنویر و منیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسئله: په ناپاکه دوړه کوهی نه پلیتیږي، همدا سې که د وزې یوه یا دوه پچې همدارنګه که په پیو کې د لوشلو وخت کې ولویدې، سمدستي یې راوویستلې او ماتي شوی هم نه وې، شودې پرې نه خرابیږي[۱].

## د جوټې بیان او مسائل

مسئله: د انسان جوټه پاکه ده نر وي او که ښځه، مسلمان وی او که کافر، په حالت د جنابت کې وي او که په حالت د حیض او نفاس کې وي، او که پاک وي، خلاصه چې جوټه په هر حالت کې پاکه ده او که په خوله یې څه ناپاکي ظاهره کې لګیدلي وي نو د ظاهری ناپاکي پواسطه جوټه ناپاکه شي. مثلا چا شراب وڅښل یا یې خوله وینې شوه، بیا یې سمدستي اوبه وڅښلې دا جوټه ناپاکه شوي[۲].

مسئله: کوم حیوان او ښاروی چې هغه حلال وي لکه: پسه، وزه، غوا، میښه وغیره او د داسې نورو جوټه پاکه ده، همدا رنګه د کومې مرغۍ چې غوښه یې حلاله وي لکه: زرکه، تارو، تنذری، سحرایي چرګان وغیره د دې هم جوټه پاکه ده او که چیرې جاته معلومه شوه چې د دې حیواناتو په شونډو یا د مرغۍ په منښو که څه ظاهري پلیتي لګیدلي وه، او اوبو کې یې خوله کیښوده نو د هغو پلیتو پواسطه اوبه ناپاکې شوې[۳].

مسئله: د لیوه، منزري، فیل (هاتي) ګیدړې، شادو او نور ځناورو چې څیرل کوي د دې ټولو جوټه پلیته ده[۴].

مسئله: د پیشو جوټه که پاکه هم ده لیکن مکروه ده، که نورې اوبه پیدا کیدې د پیشو په جوټه اودس ښه ندی، او که مجبوریت وو بیا فرق نلري، او که پیشو موږک وخوړ او بیا یې اوبه وڅښلې نو دا اوبه پلیتي

---

[۱] رواه درمختار و شامی
[۲] رواه هندیه، منیه
[۳] رواه شرح التنویر
[۴] رواه درمختار و هدایه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي او که خوله یې څټلې وه نو بیا هغه او به پلیتي ندي، لیکن مکروه دي[۱].

مسئله: د سپي جوټه پلیته ده، که په کوم لوښي کې یې خوله ووهله هغه لوښی به بیا په دري واري ومینځي اوبو باندې پاکیږي یا دې او ه کرته پرې مینځې بهتره ده یا دې یو واري په خاوره ومښي[۲].

مسئله: که پیشو کتغ یا پی یا بل شی جوټه کړو که مسکیني وي ودې خوري او که مالداري وي، هغه دې نه خوري کوم غریب یا مسکین ته دې ورکړي[۳].

مسئله: که پیشو د چا لاس یا کالي وڅټل نو بې له مینځلو نه به خپل لمونځ نکوي، مکروه دی[۴].

مسئله: د ښکاري مرغانو لکه: باز، باشه او نور جوټه یې مکروه ده او که ناپاکه شی یې نه وو خوړلی بیا جوټه پاکه ده. همدا سې د مار، منګک، چرمخکی وغیره جوټه هم مکروه ده، او کوم حیوان لکه: مچ، لړم، مچۍ او میږی چې وینه نلري نو جوټه یې پاکه ده، او که موږک ډوډۍ څه خوړلي وي باید د هغې ځای شاو خوا ډوډۍ ترې لرې کړي[۵].

مسئله: د نامحرمې ښځې او نامحرم سړي جوټه مکروه ده، دا ځکه چې ناجایزه لذت ورنه حاصلوي لیکن د خپلې ښځې او نسبي ښځې چې د هغې سره یې نکاح حرامه وي نو بیا یو د بل جوټه حلاله ده[۶].

مسئله: د خره او قچرې جوټه پاکه ده، لیکن علماوو شک کړی دی، فرمایي که نورې اوبه مو پیدا کړې پدې اوبو به اودس نکوي، حتی تمیم

---

[۱] رواه درمختار و هدایه
[۲] رواه شرح تنویر و ردمختار
[۳] رواه شرح تنویر او شامي
[۴] ردمختار
[۵] روه درمختار او شامي
[۶] رواه دومختار و ردمختار

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې ووهي او خپل لمونځ دې وکړي[1].

مسئله: د کوم حیوان چې جوټه نجسه ده خوله یې هم نجسه ده، او د کوم حیوان چې جوټه پاکه ده د هغه خوله هم پاکه ده، د خره او قچرې خوله پاکه ده چې په بدن یا په کالیو ولګیده نو مینځلو ته یې ضرورت نشته، لیکن د احتیاط لپاره مینځل یې ضروري دي[2].

## د تیمم مسایل

مسئله: که چانه د یو میل په اندازه اوبه لرې وي یا وې خو دې پرې خبر نه وو په استعمال یې قادر نه وو نو ده ته تیمم جواز لري، تیمم به وهي خپل لمونځ به ادا کوي[3].

مسئله: که آبادي کې وو د لمانځه وخت شو اول ورته د اوبو پیدا کول واجب دي او که په ځنګله کې وو نه اوبه ورته معلومې وي او نه څوک وو چې د اوبو پوښتنه ورنه وکړي نو بیا ورته تیمم جواز لري. او که چیرې پد یې ګمان وو چې اوبه به پیدا شي نو لمونځ به تر آخره وځنډوي او که یقین یې وو چې اوبه دلته نه پیدا کیږي بیا ورته جواز لري چې تیمم ووهی خپل لمونځ ادا کړي.

فایده: شرعي میل ۴۰۰۰ څلورزره ګزه دی، او یو شرعي ګز بیا ۴۰ څلویښت ګوتي دی، او یوه ګوته بیا ۴ څلور اوربشې دی، یعنې څلور اوربشې پی در پی کیښودل شي د یوې خیټه بلې سره ولګیږي نو دا د یوې ګوتې اندازه ده.

مسئله: که یو ځای کې کوهی وو لیکن د اوبو د راویستلو څه وجه ورسره نه وه، یا هلته ځناور یا بل دشمن وو ورتلل یې خطره درلوده او

---

[1] رواه مجمع الانهار

[2] رواه شرح التنویر و شامي

[3] روه درمختار و ردمختار او شامي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورې اوبه ورنه يو ميل لرې وی بيا کولای شي چې تيمم ووهی او لمونځ وکړي[۱].

مسئله: که اوبه وې او هغه خرڅيدی ده سره روپۍ نه وې نو بيا تيمم ورته جواز لري[۲].

مسئله: که اوبه ورسره وې دی په سفر کې وو د تندې خطره ورسره وه يا د ملګرې او ښاروي د تندې په خاطر يې د تندې خطر حس کاوه، تيمم ورته جواز لري، يا دا چې په لاره کې د اوړو د لمدولو يا د کتغ لپاره يې په سفر کې کار ورنه اخيسته، بې له اوبو يې چاره نه درلوده، بيا کولای شي په تيمم سره لمونځ ادا کړي[۳].

مسئله: که چا سره د زم زم اوبه وې او هلته لمونځ ورنه قضا کيده، تيمم به نکوي په همدې اوبو به اودس وکړي او لمونځ به ادا کړي[۴].

مسئله: يو سړی جنوب وو، د بلې ښځې د حيض وخت پوره وه او هلته يو مړی پروت وو نو اوبه لږې وې د يوه شخص لپاره يې کفايت کاوه دلته که دا اوبه د يوه شخص وی هغه به يې ولګوي او که شريکې وې، نو لمړی به پرې مړی ولمبوي، هر يو به خپل حق ورته وبخښي، او که اوبه مباح وې نو جنوب به پرې ولامبي او نور به تيمم وهی لمونځ به وکړي[۵].

مسئله: که د چا دواړه لاسونه څنګل کې پرې شوي وو او دواړه پښې يې په زنګنو کې پرې شوي وي او مخ يې زخمي وو نو پدې سړي نه اودس شته او نه تيمم هسې به بې اودسه او بې تيمم لمونځ وکړي.

مسئله: که څوک بندي وو بندې خانه کې نه ورته اوبه وې نه پاک ځای

---

[۱] درمختار
[۲] رواه برړايق و شرح التنوير
[۳] رواه شرح تنوير او ردمختار
[۴] رواه شرح منيه و فتح القدير
[۵] شرح التنوير و ردمختار

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو او نه پاکه خاوره چې دې هلته اودس یا تیمم وکړي، دې ته فاقد الطهورین ویل کیږي، هلته به لمونځ نکوي، بلکه د لمانځه وخت کې به د لمانځه پیښه کوي، یعنې د لمانځه نیت به نه تړي، هسې دې د لمونځ کوونکي په شکل ودریږي، په ولاړې به د سر په اشاره لمونځ وکوي، څه به نه وایي هسې به ولاړ وي، بیا نو کله چې آزاد شو قضایي به یې راوړي[1].

مسئله: که څوک د اوبو د استعمالولو څخه عاجز وي، او شرعي مجبوریت ولري، مثلا سخته یخني وي، وجود ته یې خطر پیښیږي، او یا یې اوبه پیدا نکړي، تیمم یې وواهه لمونځ یې ادا کړو نو دا لمونځ صحیح دی، راګرځولو ته یې حاجت نشته، او که چیرې په تیمم باندې لمونځ وکاوه وخت د لمانځه لا پاتې وو او ده اوبه پیدا کړی بیا هم د لمانځه راګرځولو ته ضرورت نشته[2].

مسئله: په کومو شیانو چې اودس ماتیږي، په هغه سره تیمم هم ماتیږي، تنها یو دا چې کوم وخت چې چا تیمم وهلی وي او اوبه یې ولیدې او قادر په اوداسه وو نو تیمم یې مات شو[3].

مسئله: په تیمم کې دا ضروری نده چې ووایي چې زه اودس لپاره تیمم کوم یا د غسل لپاره تیمم کوم بلکه د زړه اراده ضرور ده، د خپل ځان د پاکیدو لپاره او لمانځه لپاره به داسې نیت تړي (نَوَیتُ اَن تَیَمّمُ لِرَفعِ الْحَدَثِ وَلاسْتِبَاحَةِ الصّلَاة) دا نیت د اوداسه او غسل دواړو لپاره کفایت کوي، د دې ضرورت نشته چې د اوداسه لپاره جدا او د غسل لپاره جدا جدا نیت وکړي[4].

---

[1] رواه ابو سعود و بحر رایق
[2] رواه هندیه و شرح التنویر
[3] رواه مطلقی و هدایه
[4] رواه کنز الدقایق

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د تیمم طریقه

د تیمم طریقه داده چې اول به نیت وکړي، بیا به بسم الله ووایي، دواړه لاسونه به په پاکه ځمکه یا هغه شي چې د ځمکې له جنسه وي، پداسې حال چې ګوتې به یې پراخه نیولي وي پر ځمکه ووهي مخې او شا خواته به یې راکش کړي، بیا به لاسونه پورته کړي، لږ دې تک ووهي، بیا به یې په ټول مخ راوکاږي، دوهم کرت به بیا خپل لاسونه پر مخکه ووهي، تک به یې ووهي. د چپ لاس د غټې ګوتې نه سوا د نورو څلورو ګوتو په باطن طرف د ښي لاس د ګوتو سرونو څخه شروع کړي او د هغه په ظاهر طرف به یې راکش کړي، تر څنګلو پورې، بیا دې د هغه ځایه د چپ لاس ورغوی د ښي لاس په باطن طرف راکاږي، چې د ښي لاس ورغوی غاړې ته ورسیږي، د چپ لاس د غټې ګوتې بیخ به مړوند ته رسیدلی وي، د هغه ځایه نه به دا ګوته دغه شان د ښی لاس د غټې ګوتې په ظاهر تیر کړي، بیا دې په همدې قسم د چپ لاس مسح وکړي، آخر کې به د دواړو لاسونو د ګوتو خلال هم وکړي، تیمم یې وشو.[1]

مسئله: په کومه ځمکه چې متیازې شوې وي، وچې شوی وي او اثر یې پاتې نه وي او که نوره پلیتی هم وي لیکن اثار یې نوي پاتې، پداسې ځای لمونځ کیږي لیکن تیمم پرې ندی جایز او که چاته معلوم نه وي بیا فرق نلري، تیمم پرې وهلی شي.[2]

مسئله: د ځمکې نه سوا بل داسې شی چې هغه د ځمکې د جنسه وي او پاک وي د امام صاحب په نزد تیمم پرې جواز لري لکه: خاوره، چونه، شګه، رانجه وغیره، او کوم شی چې د ځمکه د جسنه نوي لکه: وسپنه، سره زر، سپین زر، غنم او لرګی وغیره نو په هغې باندې تیمم جواز نلرې

[1] شرح منیه الکبیری
[2] رواه منیه و بحر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ها که چیرې دوړې او خاورې پرې پریوتلي وي بیا جواز لري[۱].

مسئله: همداسې که ایره کې خاوره ګډه وي، او د خاورې مقدار پرې ډیر وي نو بیا تیمم پرې جواز لري او که خالصه ایره وي نو بیا تیمم پرې جواز نلري[۲].

مسئله: که کوم ځای کې سیوا د ختې نه وچه مځکه پیدا نشوه نو لمده خته به په کوم شي ومو ږي چې هغه وچه شي، بیا به تیمم پرې ووهي نو بیا جواز لري[۳].

مسئله: که اوبه موجودې وې او چا د جومات تلو لپاره، تلاوت لپاره یا د قرآنکریم راخستلو لپاره تیمم ووهو نو دا تیمم هیڅ اعتبار نلري، صحیح نده[۴].

مسئله: د جمعې د لمانځه لپاره تیمم جواز نلري، که د اوداسه په کولو د جمعې لمونځ ورنه ختم شي فرق نلري د ماسپښین لمونځ دې وکړي[۵].

مسئله: د اخترو لمونځونو لپاره که یې دفعتا اودس مات شوی وي، یا دا چې وخت کم وي او د اودس کاوه د لمانځه د فوت کیدو ویره ورسره وه نو بیا کولای شي تیمم وکړي جواز لري[٦].

مسئله: همداسې د جنازې لمانځه لپاره ده سره ویره وه چې زه ترڅو اودس کوم جنازه رانه فوت کیږي نو تیمم ورته جواز لري، بیا که چیرې دوه جنازې وي او د دواړو جنازو د فوت کیدو ویره وه بیا به دوهم وارې دوهمې جنازې ته تیمم ووهي، اولنی تیمم ورته کافي ندی[۷].

---

[۱] رواه منیه و بحر
[۲] رواه درمختار و رد مختار
[۳] رواه شامي
[۴] رواه منیه و شرح تنویر
[۵] رواه بحر رایق
[٦] رواه هدایه
[۷] رواه درمختار

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسئله: که او به نه وي د تلاوت لپاره او د قرآنکریم د لاس وړو لپاره تیمم کولای شي جواز لري لیکن لمونځ پرې نشي کولای.
مسئله: که چا د لمانځه لپاره تیمم وکړو لکه د اودس غوندې، ترڅو چې دا تیمم یې باقي وي هومره لمونځونه پرې کولای شي، فرض وي یا سنت او که نفل او همدغه شان تلاوت پرې هم کولای شي[1]

## پر موزو د مسحې بیان

مسئله: هغه موزې چې ښنګری پکې پټیږي، او د څرمنې څخه جوړ شوی وي، او په هغه کې درې څلور میله مزل کیدای شو په اوداسه به یې پښو کړي، او د وخت تر پوره کیدو مسحه پرې کولای شي.
مقیم لپاره یوه شپه او یوه ورځ وخت لري، او مسافر لپاره پر موزو درې شپې او درې ورځې وخت لري، مطلب دا دی کله مقیم د سهار اودس وکړو موزې یې پر پښو کړې تر بل سهاره پورې کله چې د سهار لمانځه لپاره اودس کوي هغه پخوانی د موزو مسح یې باقي ده تر دې او ادسه دوام لري[2].
مسئله: د مسافر لپاره درې شپې ورځې پر موزو مسح ورته جواز لري، لکه چې ده د نن ماسپښین د لمانځه لپاره اودس وکړو بیا یې خپلې موزې پښو کړې کولای شي د هر لمانځه د اوداسه لپاره پر موزه مسح وکړي، کله چې درې شپې او درې ورځې د مسح کولو پوره شوې، یعنې د شنبې د ورځې په ماسپښین یې موزې پر پښو کړې تر سه شنبې ماسپښین تر اودسه پورې دوام لري.
لنډ مثال یې: مسافر د ماسپښین د لمانځه لپاره اوداسه کې موزې پر پښو کړې نو دې د دریمې ورځې لمر پریوتو پورې دا مسح دوام لري، او

---

[1] رواه هدایه
[2] درمختار

(c) ketabton.com: The Digital Library



که مقیم یې د ماسپښین د لمانځه لپاره موزې پر پښو کړې دا مسح بیا د سبا ورځې د لمر پریوتو پورې دوام لري، ترڅو چې د ماسپښین وخت باقي وي.

مسئله: که د چا موزې په پښو وې غسل پرې واوخوت غسل ته به موزې اوباسي[1].

**پر موزو د مسح سنت طریقه**

د لاسونو ګوتې به لمدې کړي، بیا به د پښو د ګوتو د پاسه رږدي البته برسیره پرموزو باندې بیا به یې د پښو د پړکیو پر سر ګوتې راکش کړي تر پنډیو پورې، په ښی پښه به ښی لاس او په چپه پښه به چپ لاس، د ګوتو سره به ورغوی هم پر موزه رږدي[2].

مسئله: د موزو د مسح مستحبه طریقه دا ده چې د ګوتو او د ورغوو خیته به په موزو راکاږي، او که د شا په طرف یې مسح وکړه هم صحیح ده[3].

مسئله: که چا د موزو مسح په بر وکړه او په اوږدو یې ونکړه هم صحیح ده[4].

مسئله: که چا په موزو مسح ونکړه، باران یې موزې لمدې کړې، یا د باران پواسطه د فصل په واشو لمدې شوې وې پکې تیر شو او موزې یې لمدې شوې، مسح یې کیږي[5].

مسئله: کله چې د موزې د مسحې موده پوره شوه، مسح یې ماتیږي، مجبور دی موزې به اوباسي پښې به مینځي، که اودس یې درلوده،

---

[1] رواه دارالمنتقی او درمختار
[2] رواه منیه
[3] رواه منیه
[4] رواه درمختار و منیه
[5] رواه دور مختار و شامی

(c) ketabton.com: The Digital Library



اودس ته یې ضرورت نشته، او که اودس یې نه درلودو موزې به باسي اودس به هم پوره کوي بیا به د موزو مسح هم تازه کوي[۱].

مسئله: که په موزو کې اوبه داخلې شوې ټوله پښه یا نیمه یا د هغه نه زیاته لمده شوه مجبور دی هغه بله موزه به هم اوباسي دواړه پښې به مینځي[۲].

مسئله: کومې موزې چې د درې ګوتو په اندازه څیرې وي مسح پرې جواز نلري او که له درې ګوتو کمه څیرې وي نو بیا مسح پرې جواز لري[۳].

او که د یوې موزې څیرې والی د دوه ګوتو په اندازه وو او د بلې د یوې ګوتې په اندازه څیرې وو خیر دی مسح پرې جواز لري، لیکن د یوې موزې چې درې ګوتې څیرې وي جواز نلري[۴].

مسئله: که موزې د جرابو د پاسه پښو شوې مسح پرې جواز لري[۵].

مسئله: په جرابو مسح جواز نلري، او که لاندې ورته څرمن ګنډل شوې بیا جواز لري[۶].

مسئله: په بوټانو هم مسح جواز لري، لیکن شرط دا دی چې کوم ځای پورې چې اودس کې د پښو مینځل فرض دي، هغه ځایونه پکې پټ وي جواز لري[۷].

مسئله: که د سر د مسح په بدل کې، په ټوپۍ یا پټکي باندې مسح کول غواړي یا د مخ مینځلو بدل کې په چادرې کول غواړي او د لاسونو

---

[۱] رواه شرح التنویر
[۲] رواه زیلعی
[۳] رواه درمختار و شامی
[۴] رواه منیه
[۵] غنیه
[۶] رواه شرح التنویر
[۷] رواه درمختار

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینځلو بدل کې په لستوڼو مسح کول غواړي دا درسته نده، مسح یې نه کیږي[١].

مسئله: د مسافر لپاره خو د مسح موده درې شواروزه ده او که ده پر موزو مسح کړي وي یو شواروز وروسته کورته راغی، د سفر خبره یې ختمه شوه موزې به اوباسي او پښې به مینځي[٢].

## په پټۍ مسح کول

مسئله: که د چا نوک پرې وو یا یې پښې چاودې وې، پټۍ یې پرې اینښې وه، اوبو ضرر ورته درلود یا یې په لاس دانه وه یا یې په نور وجود زخم وو او پټۍ یې پرې اینښې وه، د اوبو رسول ورته ضرر رساوه خپل لاس به لوند کړي پرې راکش دې کړي مسح یې وشوه، او که کوم ځای یې غوړ کړی وو او به دې پرې تیري کړي[٣].

مسئله: د پټۍ د پاسه باید ټول ځای مسح کړي که نو نیم ځای به حتمي مسح کوي، کمه جواز نلري، که په اوداسه کې پټۍ د زخم څخه ولویده او زخم جوړ وو مسح یې ماته شوه هغه ځای به و مینځي او که زخم جوړ نه وو پټۍ به بیرته ولګوي، بیا مسحې ته ضرورت نشته[٤].

مسئله: که د چا لمانځه کې پټۍ ولویده او زخم یې جوړ وو لمونځ یې مات شو مسح هم ماته شوه د مسح ځای به مینځي او خپل لمونځ به راګرځوي[٥].

---

[١] رواه شرح تنویر
[٢] رواه هدایه و درمختار
[٣] رواه درمختار، شامي و قاضي خان
[٤] رواه کبیری
[٥] رواه هدایه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د معذور بیان

مسئله: د چا که بدن د اسې زخم وو هر وخت ترینه وینه یا ژوې بهیده یا یې پوزه ماته شوه تل بهیده یا یې د واړه متیازو تکلیف درلوده، هر وخت قطرې ورنه تلې یا یې هر وخت باد خارجیدو، یا ښځه د اسې مریضه وه چې بې د حیض او نفاس نه ترې هر وخت وینه جاري وه، یا یې غوږ نه هر وخت ژوه را روانه وه، او ده د لمانځه په وخت کې دومره خالي موقع نه پیدا کوله چې د اودس فرض پکې پوره کړي، او لمونځ پرې ادا کړي داسې کسانو ته معذور وایي، نو د معذور حکم دا دی چې هر لمانځه لپاره به اودس کوي نو تر کومه چې د لمانځه وخت باقي وي، د ده اودس به هم باقي وي او کوم وخت چې د لمانځه وخت پوره کیږي نو د ده د مودی وخت هم پوره کیږي.

که معذور د ماسپښین د لمانځه لپاره اودس وکړو او د بدن نه یې د ماسپښین تر آخره ځومره وینه وبهیده یا ژوه ورنه تله نو اودس یې باقي دی، کله چې د مازیگر د لمانځه وخت داخل شو اودس یې مات شو د مازیگر لمانځه لپاره به اودس وکړي[1].

مسئله: معذور به د هر لمانځه لپاره اودس تازه کوي، او پدې اودس کولای شي قضایي او نفل ادا کړي.

مسئله: هغه وخت سړی معذور بللی شي چې دلمانځه په ادا کولو کې یا د لمانځه د ادا کولو په اندازه د ده د بدن نه وینه یا ژوه جاري وي مثلاً: د فرض لمانځه لپاره یې اودس وکړو د بدن نه یې وینه جاری وه یا دا چې لمانځه کې یا د لمانځه او اودس ترمنځ د ده څخه وینه یا ژوه جاري وه نو همدا یو اودس د یو وخت لمونځ لپاره کافي دی، ترڅو چې د بل لمانځه وخت داخلیږي. کله چې د بل لمانځه وخت کې د ده نه وینه یا ژوه خارج شوه بیا هم معذور دی، هغه وخت به د معذوری نه وزي چې د یوه لمانځه

---

[1] روه هدایه و درمختار

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت کې ده نه وینه یا ژوه لاړه نشي.

مسئله: که معذور د وینې یا ژوي په بندیدو قادر وو پرې واجب ده چې په هره طریقه وي خپله وینه یا ژوه بنده کړي د معذور نه که په سجده کې وینه روانه وه خیر دی خپل لمونځ دې وکړي لیکن په ناسته، ولاړه، اشاره دې لمونځ وکړي، که په ناسته وینه ورنه تله نو په ولاړې دې لمونځ وکړي، ولې چې په ملاسته ورته جواز نلري[1].

مسئله: که د مریض وینه یا ژوه جاري وه، کومه ټوټه چې لاندې یا برسیره اچول شوي وي بې نمازه شوهو فرق نلري د همدې وخت لمونځ پرې کیږي[2].

## د حیض او استحاضې بیان او مسئلې

په هره میاشت کې چې د ښځې نه کومه معروفه وینه ځي هغې ته حیض وايي، چې د حیض موده کم د کمه درې شپې او درې ورځې دي او زیات نه زیات لس شپې او لس ورځې دي، که چیرې د درې شپو او درې ورځو نه مخکې وینه بنده شوه هغه حیض ندی بلکه هغه استحاضه (مرض) دی او که چیرې د لسو شپو او ورځو نه مخکې وینه بنده شوه هغه حیض ندی بلکه هغه استحاضه (مرض) دی او که چیرې د لسو شپو او ورځو نه واوښته که دا په عمر کې دا یو کرت شوه نو لس ورځې یې د حیض دي متباقي ورځې استحاضه (مرض) دی[3].

مسئله: د **۹** کالو نه مخکې ښځې ته حیض نه ورځي او که نجلۍ د نهو کلو نه کمه وه، وینه راغله هغه حیض ندی بلکې استحاضه ده، همداسې که ښځه **۵۵** کلو ته ورسیده نو بیا هغې ته حیض نه ورځي، او په دې عمر کې ورته سور رنګه یا تور رنګه وینه راغله هغه به حیض وي او که ژیړ،

---

[1] رواه درمختار و رد مختار

[2] رواه درمختار

[3] رواه هدایه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خړ او شین رنګه وینه ورته راغله نو دا حیض ندی او که پدې عمر کې عادت وه نو بیا حیضي ده.

مسئله: که د یوې ښځې عادت نه وو بلکه کله کله یې پنځه ورځې حیض ورته او کله به اوه ورځې ورته په همدې قسم به بدلیده رابدلیده یا به یوه میاشت کې پوره لس ورځې وشو نو دا ټولې لس ورځې یې په حیض کې حسابیږي[1].

مسئله: که نجلۍ اول وار کې وینه ولیده او دا وینه پوره یوه میاشت روانه وه نو په کومه اوله ورځ چې وینه ورنه روانه شویده د هغې نه تر لسو ورځو پورې حیض دی نورې استحاضه ده[2].

مسئله: او که درې شپې او ورځې څه پلیتي ښځې نه راغله بیا دا پنځلس ورځې بنده شوه بیا ورنه درې شپې او ورځې پلیتي راغله نو منځ کې پنځلس ورځې ټولې پاکې دي، اولنۍ او اخرنۍ یې د حیض ورځې دي[3].

مسئله: که د ښځې ګیډه وه (حامله ) او وینه ورنه راغله دا وینه چې هر څومره وي نو دا حیض ندی بلکه استحاضه ده دا ځکه چې دا سې وخت کې ښځې ته حیض نه ورځي[4].

مسئله: پر ښځو باندې د حیض وخت کې لمونځ او اودس نشته لیکن د هر لمانځه وخت کې به اودس کوي، په جای نماز به د یوه لمانځه د ادا کولو په اندازه کیني، الله جل جلاله به یادوي چې عادت یې هیر نشي[5].

مسئله: که په اول کې د نجلۍ حیض لس ورځې یا دینه کم یا زیات وو دا ټول حیض دی او که د لسو ورځو نه زیاته وه نو لس ورځې یې د حیض

---

[1] رواه بحر رایق و شامی
[2] رواه ردمختار
[3] رواه شامی
[4] رواه در مختار
[5] رواه مجمع الانهار

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي او زیاتي یې استحاضه ده[١].

## د حیض احکام

ښځې ته د حیض حالت کې لمونځ کول او روژه نیول نشته نو کوم وخت چې پاکیږي د لمانځه قضایي پرې نشته بکله د روژې قضایي به راوړي[٢].

مسئله: تر کوم وخت چې ښځه په حیض کې وي، خاوند نشي کولای چې د نامه لاندې ورته لاس وروړي، او که منځ کې زړوکی یا بل څه پرده وي نو بیا فرق نلري، او که د نامه پورته او زنګنانو لاندې لاس وروړي، ورته حرام ندی وروړای یې شي، همداسې د خپلې ښځې سره د حیض حالت کې ملاسته، ښکلول، ناسته، ولاړه، خوړل، څکل وغیره جایز دي[٣].

مسئله: که خاوند ته معلومه وه چې ښځه یې حیض کې ده قصداً یې جماع ورسره وکړه نو دې په ګناه کبیره عمل کې اخته شو، حتمی باید توبه وباسي، یو یا نیم دینار به خیرات ورکړي[٤].

مسئله: که ښځه نیکه او صالحه وه، ریښتیا ګویه وه او خاوند یې پرې اعتبار وو، میړه ته یې وویل چې زه ناپاکه یم، نو بیا د خاوند ورنږدې کیدل حرام دي او که ښځه درواغجنه وه د خاوند اعتبار پرې نه وو او وخت د حیض یې هم نه وو پدې وینا حرام والی نه راځي[٥].

مسئله: که د ښځې د حیض وخت پوره لس ورځې وشو او دې لا غسل هم نه وو کړی، د خاوند یو ځای کیدل ورسره جواز لري[٦].

مسئله: که د یوې ښځې عادت د حیض پنځه ورځې او پدې میاشت کې یې دوه ورځې پلیتي راغله بیا هغه بنده شوه نو بیا غسل پرې واجب

---

[١] رواه هدایه

[٢] مجمع الانهار

[٣] رواه در مختار و رد مختار

[٤] رواه درمختار و ردمختار

[٥] رواه بحر رایق

[٦] رواه هدایه او شامی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، غسل به وکړي نو لمونځ به خپل وکړي، لیکن ترڅو چې د هغه وخت د لمانځه وخت پوره شوی نه وي، جماع ورسره جواز نلري[1].

مسئله: د واده ښځې لپاره هم د حیض وخت کې او هم په پاکۍ کې په فرج کې ورته مالوچ وغیره ایښودل بهتره طریقه ده، د نا واده شوي ښځې لپاره بیا خاص د حیض وخت کې غوره ده په کتابونو کې راغلي چې د واده شوي ښځې لپاره د حیض وخت کې مالوچ وغیره ایښودل فرج کې سنت طریقه ده، او په پاکۍ کې ورته مستحب طریقه ده[2].

**د نفاس مسایل**

ښځې نه چې د بچي د پیدا کیدو وخت کې کومه وینه چې څلویښت شپې او ورځې روانه وي هغه ته نفاس وایي، نفاس کم د کمه څلویښت شپې او ورځې ده او کمی ته یې خاص حد نشته، اګر که یو ساعت هم ورنه وینه لاړه شي، هغه نفاس دی داسې ښځې د لمانځه کولو او روژې نیولو نه معاف دي نو کله چې پاکیږي د روژې به قضایي راوړي او د لمانځه پرې نشته [3].

مسئله: که د بچې پیدا کیدو وروسته ښځې نه وینه جاري نشوه بیا به هم د نفاس غسل کوي.

مسئله: که د ښځې حمل وغورځیده یو یا نیم اندام یې روغ وو لکه ګوته، نوک، ویښته وغیره او بیا یې د حمل غورځیدو وروسته وینه راغله، هغه د نفاس وینه ده او که چیرې کوم اندام یې روغ شوی نه وو بیا هغه نفاس کیدای نشي، نو دا وینه د حیض ده، درې ورځې یا کم د کمه پنځلس ورځې پاکه هم وه، او که داسې نه وو نو دا بیا استحاضه ده[4].

مسئله: که د یوې ښځې عادت د نفاس (۲۵) ورځې وو او ۲۵ ورځې یې پوره شوی، لیکن وینه یې ونه دریده نو دا به غسل نکوي ترڅو چې وینه یې

[1] رواه بحر رایق
[2] روه درمختار و شامی
[3] مجمع الانهار
[4] رواه شرح تنویر

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنده شوي نه وي، مثلا په ديرشمه ورځ يې وينه بنده شوه، نو غسل به کوي خپل لمونځ به ادا کړي، د نورو لمونځونو قضايي پرې نشته، ولې چې عادت يې بدل شوی دی، په اول کې (۲۵) ورځې وه او س(۳۰) ورځې دی[۱].

مسئله: که د ښځې وينه د نفاس وخت کې د څلويښت ورځو نه مخکې بنده شوه نو د وينې د بنديدو نه به وروسته غسل کوي، خپل لمونځ به کوي، قضا کوي دې نه، او که لمبولو ورته ضرر رساوه تيمم به کوي[۲].

مسئله: که ښځه په څلويښتي کې د ننه څه ورځې پاکيده اول او آخر کې ورنه وينه جاري کيده، نو دا پاکوالی يې اعتبار نلري، پوره څلويښت ورځې يې په نفاس کې حسابيږي[۳].

مسئله: د دوو نفاسو منځ کې د پاکۍ موده کم د کمه شپږ مياشتې ده[۴].

مسئله: که د شپږو مياشتو د ننه کومې ښځې نه دوه بچي پيدا شول دا په يوه حمل حساب ده، نفاس يې يو دی او د نفاس موده يې اول بچي نه حسابيږي، او که د دوهم بچي وينه د اول بچي لا څلويښتي وتلي نه وه، وينه راغله دا وينه هم د نفاس ده، او که څلويښتي وتلي وي، دا وينه د استحاضې ده[۵].

## د استحاضې مسايل

څرنګه چې په اوداسه او لمانځه کې د استحاضې احکام لکه څنګه چې د معذور بيان کې ذکر شوي پداسې ښځه هم اودس او لمونځ شته، کوي به يې، روژه به هم نيسي د خاوند سره صحبت هم کولای شي[۶].

---

[۱] شرح تنوير و ردمختار
[۲] شرح تنوير
[۳] رواه شرح تنوير
[۴] روه درمختار و ردمختار
[۵] رواه بحر و شامی
[۶] رواه درمختار

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**